# د ثانوي دورې په چوکاټ کې ملي ازموينې

سلام او ښې چارې!

تاسو به په لنډ وخت کې د انګليسي، رياضي، سوېډني ژبې او يا د سوېډني د دوهمې ژبې په حيث مضمونونو کې يو يا ګڼ شمېر ملي ازموينې ترسره کړئ. تاسو به نظر دې ته چې په کومه رشته کې شامل ياست، د خپلې ثانوي دورې په بهير کې په هر مضمون کې يوه يا ګڼ شمېر ملي ازموينې ترسره کړئ.

د ازموينو موخه د ښوونکو سره د ارزيابۍ په برخه کې مرسته ده ترڅو معلومه کړي چې تاسو د مضمون نصاب معيارونو کې تر کومه حده بريالي شوي ياست. ازموينه د زده کوونکو پوهه په هم ساري توګه ارزولو کې هم مرسته کوي.

د کورسونو ازموينې، هم د پوښتنو طرح کولو او هم د ځوابونو ارزيابۍ په برخه کې، د مضمون نصاب پر بنسټ جوړېږي. هر زده کونکي ته بايد موقع ورکړل شي ترڅو د خپلې پوهې زياته نه زياته برخه په ډاګه کړي.

په يوې ځانګړې ازموينه کې هر څه د ازمېښت لاندې نيول د امکان څخه لرې خبره ده. د ملي ازموينې پايلې د هغې مجموعي ارزونې برخه ګرځي کومه چې په راتلونکې کې ستاسې لپاره د زده کړې شهادتنامه ترلاسه کولو لپاره لاره هواروي. ملي ازموينه د شهادتنامې اخيستلو په بهير کې يو اړين ګام دی خو د دې ترڅنګ به ښوونکی په مربوطه مضمون کې ستاسو د پوهې کچه معلومولو په موخه يوه مجموعي ارزونه ترسره کوي.

## انګليسي

تاسو به نظر دې ته چې په کومه رشته کې شامل ياست، د خپلې ثانوي دورې په بهير کې يواځې په انګليسي ۵ او يا په انګليسي ۵ او انګليسي ۶ مضمونونو کې ملي ازموينې ترسره کړئ.

د انګليسي ازموينه د بېلابېلو برخو څخه تشکيل شوې ده چې شفاهي او تحريري اړيکي او د لوستلو او اورېدلو له لارې د مطلب اخيستل د ازمېښت لاندې نيسي. د انګليسي ۶ تحريري ازموينې په لړ کې د چمتووالي مواد وېشل کېږي چې د ازموينې نېټې څخه مخکې به پرې کار کوئ. خو تاسو به د ازموينې په وخت د چمتووالي مواد ته لاسرسی نه لرئ.

## سوېډني او سوېډني د باندينی ژبی په حيث

تاسو به نظر دې ته چې په کومه رشته کې شامل ياست، د خپلې ثانوي دورې په بهير کې يواځې په کورس ۱ او يا په دواړو کورس ۱ او کورس ۳ کې ملي ازموينې ترسره کړئ.

د سوېډني ژبې ۱ او سوېډني د دوهمې ژبې په حيث ۱ کورس ازموينو کې يو شفاهي جزيي ازموينه، يوه د ليک جزيي ازموينه او يوه د لوست جزيي ازموينه شامله ده.

د سوېډني ژبې ۳ او سوېډني د دوهمې ژبې په حيث ۳ کورس ازموينو کې يو دوه جزيي ازموينې، يوه د ليک او يوه د لوست جزيي ازموينه شامله ده.

د دواړو ازموينو لپاره لارښوونه وېشل کېږي چې د ازموينو طرح او ترتيب او دا چې ستاسو زده کوونکو څخه څه تمه کېږي، تشريح کوي.

## رياضي

اتسو به نظر دې ته چې په کومه رشته کې شامل یاست، د خپلې ثانوي دور ېپه بهير کې په يو يا زيتاو کورسونو کې مل يازمويني ترسره کړئ. د کورس ازموينه د ګڼ شمېر برخو څخه تشکی لشوې وي چې د ازمويني په ورځ بهلا ه دې جملې څخه درې برخې پرته يا سره د ديجی تلمرستندويه وسايلو ترسره کوئ. د ازموينو دوو برخو ترمن ځیوه اوږده وقفه او د غرمې ډوډۍ توصيه کيږي.

## نور مالومات د خپل ښوونکي څخه ترلاسه کوئ

د هر ځانګړي کورس ښوونکی به د ټولو مضامينو ازموينو په هکله تاسې ته د ازمويني نېټې، ارزونې او د ازمويني په هکله نور اړين مالومات وړاندې کړي.

د ښوونې او روزنې عمومي اداره د واړه ملي ازموينو مسؤليت پر غاړه لري خو ازمويني د بېلابېلو پوهنتونونو لخوا طرح کيږي. د ازموينو سوالونه د هيواد د بيلا بيلو سيمو په ګڼ شمېر ښوونځيو کې تر ازميښت او کره کتنې لاندې نيول شوي دي. زده کوونکو او ښوونکو په دې هکله خپل نظرونه او څرګندونې وړاندې کړي دي او د ازمويني پوښتنې ستاسې لاس ته د ازموينو رسيدو څخه مخکې د دقيقې څیړنې او بحث لاندې نيول شوي دي. موږ هيله لرو چې ازمويني به ستاسې د خوښې وړ وګرځي او ستاسې لپاره به په بېلابېلو مضامينو کې د خپلې پوهې په ډاګه کولو يوه موقع برابره کړي.

## د ښوونې او روزنې اداره کې اړيکوال

nationellaprov@skolverket.se